## د پوهنتون د رئیس څو خبرې

دا پلان چې اوس ستاسو په لاسونو کې دی، د پوهنتون د ستراتیژیک پلان د پراختیا او د تطبیق د کمېټې د غړو د کوښښونو او زحمتونو زېږنده ده، هغه څه مو چې تر اوسه د هېواد د پوهنې او لوړو زده کړو په برخه کې په لاس راوړي، له موږ سره مرسته کوي تر څو افغانستان کې  د پوهنې او لوړو زده کړو بهیر ته  پراختیا ورکړو.

تاسو پوهېږئ چې زده کړه د ټولنې د روښنايي سبب ګرځي، د هېوادونو پرمختګ په همغه هېواد کې د زده کړو له کیفي او کمي پرمختګ سره مستقیمه او لومړنۍ اړیکه لري.

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې هیوادوالو ته د زده کړو په برخه کې په ښه توګه تر دې دمه خپل مسولیت ادا کړی او لا هم دا لړۍ روانه ده، زه د دې علمي او اکاډمیکې مؤسسې ټول کاري ټیم ته د دې هیواد د محدودو او کمو امکاناتو په لرلو سره د ډېرو لاسته راوړنو له امله مبارکي وایم، د یادونې وړ ګڼم چې مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې د هیواد د خصوصي لوړو زده کړو په برخه کې ډېره سرمایه ګزاري کړې، او خپلو محصلینو ته یې ښه زده کړیز چاپېریال برابر کړی او په ملي کچه د زده کړو د ښه کیفیت په لرلو سره یې ډېرې اسانتیاوي برابرې کړې دي .

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې په یاد علمي مرکز کې د ټولنې د وړ او با استعداده کسانو لپاره د ازادې او پرته له کوم تړاوه سیالي له لارې په کادري او اداري برخه کې همکاران ګمارلي.

د دې علمي مؤسسې کریکولم او نصاب  ته د یاد بنسټ د متخصصو او مسلکي کسانو له لوري د بازار، کار او ټولنې په نظر کې نیولو سره پراختیا ورکول شوې او دا لامل دی، چې محصلین یې له فراغته وروسته په خپله کاري ساحه کې ښه ځلېږي  د محصلینودا ځلېدا او بریالیتوب مو د خپلو کارکوونکو له ټولنې، کار او بازار څخه  پوره خبراوی دی .

زمونږ اصلي موخه د باکیفیته زده کړو رسول او د هېواد د لوړو زده کړو په برخه کې په ښه توګه فعالیت د هېواد د پرمختګ لپاره او د هیوادوالو رضایت حاصلول .

لکه څنګه مې چې وړاندې وویل د مسلم لوړو زده کړې  مؤسسې محترم مؤسس، رئیس او ټول اداري او کادري کارکوونکي د کیفیت د ښه والي لپاره کار کوي خو د خپل ځان د ارزیابي د فورمونو له څېړلو وروسته دا معلومه شوه چې لا هم په اکاډمیکو، څېړنیزو او اداري برخو کې ستونزې شته، نو په همدې اساس مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې د د ې ستونزو د له منځه وړلو او د کیفیت د لوړوالي په  خاطر ستراتیژیک او تطبیقي پلان جوړ کړ.

په اخیر کې د ستراتیژیک پلان د پراختیا او تطبیق د کمېټې له غړو څخه مننه کوم چې د دې تحصلي مؤسسې ټولې اړتیاوې یې په دې پلان کې ځای پر ځای کړې او د دې مرکز فعالیتونه او کړنې یې هماهنګې ، کړې کور یې ودان.

ډاکتر خیرالدین نثار

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس

معناګانې:

په دې برخه کې ځینې هغه اصطلاحات په لنډه توګه تعریفوو، چې په دې ستراتیژیک پلان کې راغلي دي.

برنامه: برنامه هغه نقشه ده چې د موخې یا موخو د اړینو سرچینو، مهالوېش، دندو او نوروکړنو د مشخص کولو لپاره راځي، د یوې ښې برنامې د جوړېدلو لپاره باید دغو پوښتنو ته ځواب وویل شي: څه شی، د کومې موخې لپاره، د چا

له لوري ، په څومره وخت کې، له کومو سرچینو، په کوم تاثیر او څه ډول اجرا کېږي.

برنامه جوړونه: برنامه جوړونه په هغو کړنو اطلاق کېږي ، چې د موخووړاندوینه او د نا ډاډه کړنوسره د مخامخ والي پر وخت لازم اقدامات تر سره شي، د برنامې جوړونې اصلي موخه په سازمان کې د خطر منلې د کچې کموالی او احتمالي پېښو ته د هماهنګو تدابیرو لرل .

عملیاتي برنامه جوړونه: هغه برنامه ده، چې اجرایي مدیران یې خپلو ځانګړو موخو ته د رسېدلو لپاره جوړوي، عملیاتي برنامه نظر ستراتیژیکې برنامې ته کم وخت لري او ګمان کېږي، چې د هغو مدیرانو له لوري جوړېږي چې محدود مسؤلیت د محدود موخو لپاره لري .

ستراتیژي: د علم او هنر ستراتیژي د مؤسسې موخو ته د رسېدو لپاره د یو فکر محصول دی ، یا په بل عبارت هغه جامع طرحه ده، چې د یوه پوهنتون موخې، پالیسي ګانې او عملیاتي پلانونه په یوه قالب کې له یو بل سره تړلي ترتیب او تنظیم کوي.

ترتیب: د ستراتیژیکې برنامې یوه مرحله ده ، په دې برخه کې د لید لوري ټاکنه، ماموریت، ارزښتونه، موخې، داخلي او بهرني عوامل، ستراتیژیک حالت ، د ممکنه ستراتیژیو ټاکنه او د لومړنیو ستراتژیو ټاکنه کېږي.

اجرا: د ستراتیژیکې برنامې جوړلو او د ستراتیژي د اجرا دوهمه مرحله ده چې پکې ، د لومړنیو ستراتیژیو تعین، د لنډمهالو موخو ټاکنه، کلنی کاري پلان، د بودجې ترتیب، د مؤسسې نوی والی یا طراحي، د اجرایي پالیسیو ترتیب، د رهبري د سبک ټاکنه او سرچینو ته بېلوالی .

ارزيابي: درېیمه مرحله، ارزیابي هغه ستراتیژي ده، چې د یو میکانیزم جوړولو ته اړتیا لري تر څو د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو او پالیسیو تطبیق ور باندې تر سره شي .

لید لوری: هغه ذهني انځور یا ارمان دی چې د یوې مؤسسې یا ارګان کس یې غواړي.

ماموریت : د یوې ادارې یا مؤسسې علت او داخلي فلسفه ده، چې د ادارې وروستي اهداف ښکاره کوي .

موخه : له هغې نقطې څخه عبارت ده، چې ټولې کړنې یې دلاسته راوړلو په خاطر په لوري سوقېږي، موخې باید لاسته راتلونکې، ستونزې زېږونکې او د زماني اړخ لرونکې وي، د لاسته راتلو طریقه یې باید معلومه وي، هدفونه باید ډېر و نه ټاکل شي، تر څو په لاسته راوړو کې یې پاتې راشو.

ارزښتونه: د یوې ادارې له اعتقادي او اساسي اصولو څخه عبارت دي چې د هغو په واسطه ماموریت او آرمانونه ترتیب کېږي.

1 . سریزه

د ټولنیزو بدلونونو او د نړۍ چټک پرمختګ له بدلونونو څخه خبراوی اړین کړي ، په ننۍ نړۍ کې د تکنالوژي د پرمختګ او د محیطي بدلونونو د برنامې جوړونې اړتیا پوښلې نه ده پر اېښي، پر محیطي تغیراتو بې باوري او د ډېرې ګټې ترلاسه کولو ته معلومه خبر ده چې برنامه جوړونه اړینه ده .

ستراتیژیکه برنامه جوړونه د یوه سازمان د داخلي او بهرني محیط تر څېړنې وروسته د محیطي فرصتونو او ننګونو د قوت او ضعف ټکي په نښه کوي او دسازمان د لید لوري او ماموریت په نظر کې نیولو سره سازمان ته لوړې موخې ټاکي او د د غو موخو د لاسته راوړلو لپاره د هغو ستراتیژیکو ټکو ټاکنه کېږي چې له فرصتونو ، قوتونو څخه برخمنې وي او کمزوري او ګواښونکي ټکي له منځه یوسي تر څو سازمان د سیالۍ په ډګر کې ښه وځلېږي.

د بهرني محیط اړیکې د سازمان له اړیکو سره او د ټولنیزو، سیاسي، ټکنالوژیکي ، اقتصادي، کلتوري او تخنیکي بدلونونو په نظر کې نیولو سره دې

علمي مرکز د ستراتیژیک پلان او عملیاتي پلان پر جوړولو کار پیل، چې په لومړۍ برخه کې یې د مؤسسې لید لوری او ماموریت وړاندې شوی دی .

ورپسې بهرنی محیط تر څېړنې لاندې نیول شوی، او له مؤسسې څخه د باندې محیط کې د فرصتونو او ننګونو لکه ټولنیز، اقتصادي، فرهنګي، ټکنالوژیکي، تخنیکي، سیاسي او قانوني باندې بحث شوی.

همدا ډول د مؤسسې د داخلي محیط د څېړنې لپاره بېلابېل عوامل لکه اړیکې جوړول، موخې، اړیکې او مرستې او د کړنو تر سراوي څرنګوالی تر څېړنې لاندې نیول شوې، چې اړین قوانین او کلتور، جوړښتونه، انساني سرچینې  او د زیات تاثیر لرونکي داخلي عوامل ور څخه په لاس راغلي.

د بهرني او داخلي محیط له څېړنې لاسته راغلې پایلې چې د ټول پوښتنې په اساس شوې، هم په راپور کې راغلې، له دغو پایلو په لاسته راوړلو سره د مؤسسې ستراتیژیک موقعیت  او ټولېزي ستراتیژیګانې جوړې شوي دي .

په اخېر کې د دغو ستراتیژیو د لاسته راوړنې لپاره ځانګړې عملیاتي برنامې په پام کې نیول شوې .

لید لوری:

 مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي او ژمنه ده، چې هېواد والو ته د پوهې په کمي او کیفي برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي، او خپلې کړنې په ملي او نړیواله کچه برابرې کړي او د یو علمي، څېړنیز او مسلکي مرکز په توګه د دې هېواد د  خلګو  وړتیاووته په ملي او نړیواله کچه پراختیا ورکړي.

۳ـ ماموریت:

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو د یوه معیاري مرکز په توګه، خپل تحصیلي، مسلکي او تخصصي خدمتونه په نظري او عملي برخه کې د اسلامي او ملي ارزښتونو د خپل ستراتیژیک پلان او پالیسیو په نظر کې نیولو سره هیوادوالو ته وړاندې کوي.

۴ـ ارزښتونه:

1. په اسلامي او ملي ارزښتونو د رهبرانو، مدیرانو او قاضیانو په علمي توګه روزنه .
2. د کریدیټ سیسټم او د زده کړو له نویو او معاصرو میتودونو او ټکنالوژۍ په استفاده د چوپړتیاوو وړاندې کول.
3. مسؤلیت منله.
4. په مالي او اداري برخه کې پر ځان بسیاینه د حساب ورکونې او شفافیت په نظر کې نیولو سره .
5. د روغتیایي برخې له کړنو څخه هر اړخیز ملاتړ.
6. له ملي او نړیوالو پوهنتونونو سره اړیکې د ملي او نړیوالو مرستو په نظر کې نیولو سره .
7. انساني مینه او په نورو مهرباني .
8. په استادانو او محصلینو کې د ژمنو ، ښو اخلاقو او صداقت تقویه د ملي منافعو په نظر کې نیولو سره .
9. علمي او مالي خپلواکي د خپلواکي او اکاډمیک صداقت په نظر کې نیولو سره .
10. په کړنو پوره برلاسی او کمال ته رسېدنه .

۵ـ موخې :

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه د سیمې او نړۍ پرمختګ ته په کتلو سره د خپلو علمي برنامو د پراختیا او د وړ مدیرانو، قاضیانو او رهبرانو روزنې ته په علمي برخه کې نه ستړېکېدونکي هلې ځلې د هېواد د لوړو زده کړو وزارت دنافذه قوانینو په رڼا کې تر سره کوي.

د مؤسسې د ستراتیژیک پلان موخې د روغتیایي او اکاډمیکو برنامو تطبیق او لوړو زده کړو ته لاسرسی  او همدا ډول د تدریس لپاره د غوره چاپېریال جوړول
.

د دغو موخو په نظر کې نیولو سره کولای شو د مؤسسې موخې په لاندې ډول مشخصې کړو:

1. د غوره مدیرانو، قاضیانو او رهبرانو روزل، د هېواد دکار بازار د غوښتنو مطابق.
2. استادانو او محصلینو ته د عادلانه فرصتونه برابرول او د  علمي او مسلکي کچې لوړوالی یې .
3. د ماسټري او لیسانس پلانونو ته پراختیا ورکول.
4. د پوهې تولید او څېړنې .
5. زده کړې د پوهې د لېږد له لارې .
6. انتقادي فکر .
7. ګډ مدیریت

:۶

برنامې (پلان)

علمي برنامې

د هر پوهنتون په ځانګړي ډول د مسلم لوړو زده کړو مؤسسې نقش د باکیفیته، علمي، څېړنیزې او تدریسي برخو په چوپړتیاو کې معلوم او ښکاره دی .

دا د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو په برخه کې د کلیدي او غوره مؤسسو له ډلې څخه یوه هغه ده، چې د غوره مدیرانو، رهبرانو او ملت ته د پوره ځواب لرونکي څارنوالانو د وړاندې کولو په برخه کې د تاسیس له پیل څخه تر اوسه پورې کار کړی.

ملت او خلګو ته د وړ او مسلکي مدیرانو، رهبرانو او څارنوالانو وړاندې کول د دې ستر عملي مرکز اصلي موخه او هدف دی، نو ځکه یې ټولې کړنې د دې ستر هدف د تر لاسه کولو لپاره منظمې او سیستماتکې برابرې کړې دي .

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې خپلو د غو سپېڅلو موخو ته د رسېدو لپاره په خپله کادري او اداري برخه کې د ځوان کهول ونډې ته ځانګړې پاملرنه کړې، او د دغو ځوانانو د وړتیاوو د لوړاوي په موخه یې د غو ځوانانو ته د لوړو زده کړو په برخه کې د بورسیو ورکړه او همدا ډول د مسلکي او تخصصي پرګرامونه لړۍ په لار اچولې، چې دا موخې له علمي او څېړنیزو برنامو او پلانونو څخه عبارت دي، بل په علمي برنامو کې د څېړنیزو پلانونو جوړول دي ، چې دا ټکي د مسلم لوړو زده کړو مؤسسې د رسالت او موخو اصلي برخې جوړه وي ، چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره په عملي برخه کې هم د اجرا وړ دي.

د تدریس په برخه کې مهم شی د مېتودونو نوی والی ، پراختیا ، د ننۍ پر مخ تللې نړۍ او د بازار کار له پرمختګونو سره برابر درسي مواد د دې مؤسسې د ستراتیژیک پلان له اجزاوو څخه دي .

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه د پورتنیو یادو شوو، ټکو تر څنګ د ټکنالوژي پرمختګ هم د تدریسي برخې یو مهم او اساسي اصل ګڼي ، په همدې موخه یې د خپلو ټولګیو سمبالول په نوې ټکنالوژۍ سره د دې ستراتیژیک پلان یوه اساسي او مهمه برخه ټاکلې.

له اورد واټن څخه زده کړې په ننۍ نړۍ کې په یو کلتور باندې اوښتې، چې مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه هم غواړي د شرايطو په برابرېدو سره دا چاره تر سره کړي .

د علمي پرګرامونو بله برخه چې د دې ستراتيژيک پلان عمومي موخه ده، د کيفيت د ارتقا او اعتبار ورکونې د پروګرام تطبيق دی، د دې مؤسسې په څلورګونو پوهنځيو کې د لوړېتوبونو له جملې څخه   د کيفيت لوړونې د پروګرام پراختيا او فعاليت دی. په عمومي ډول لاندني موارد په اکاډميکو پروګرامونو کې شاملېږي :

- ✓ د کيفيت لوړونې د معيارونو تطبيق او اعتبار ورکونې ته لاسرسی.
- ✓ په اسلامي او ملي روحيه د مديرانو، رهبرانو او څارنوالانو روزل .
- ✓ په استادانوکې دپوهې د مسلکي ـ او تخصصي برخې پياوړتيا او ورته د ماسټرۍ د پروګرامونو په لاره اچول.
- ✓ د علمي کنفرانسونو جوړول او څېړنيزو پروژو ته پراختيا .
- ✓ په مؤسسه کې د ژباړې، تاليف او څېړنو د مرکزونو ايجادول.
- ✓ له کورنيو او بهرنيو پوهنتونونو سره د علمي او اکاډميکو اړيکو جوړول.
- ✓ د نويو پوهنځيو جوړول د ټول پوښتنې او اړتيا په اساس.

د کيفيت لوړونه او اعتبار دهي ته لاسرسی:

اکاډميک اعتبار او باور تر لاسه کول د مسلم لوړو زده کړو مؤسسې له اصلي او اساسي موخو څخه دي. د مؤسسې په سطحه د کيفيت لوړونې د کمېټې جوړښت، او د پوهنځيو او ډيپارټمنټو په سطحه د فرعي کمېټو تشکيلول.

د کيفيت لوړونې په برخه کې ټولېزې موخې په لاندې ډول دي :

- ✓ د مؤسسې او پوهنځيو په سطحه د کيفيت لوړونې د کمېټو د فعاليتونو تقويه .

- ✓ د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت لوړونې او اعتبار ورکونې د ریاست د لایحو او مقررو تطبیقول.
- ✓ د مؤسسې د ارزیابي ګزارش جوړول د اعتبار ورکونې نورو مرحلو ته د رسېدو په موخه.
- ✓ د مؤسسې د ستراتیژیک پلان مطابق د عملیاتي پلان جوړول .
- ✓ د مؤسسې په کچه د اعتبار ورکونې د کمېټو سمبالتیا.
- ✓ د ډیپارټمنټونو په کچه د تدریسي برنامې ارزیابي کول.
- ✓ د کیفیت لوړونې کلتور د رواجولو په موخه د ورکشاپونو جوړول.
- ✓ د انفرادي تدریسي پلان جوړولو له امله د استادانو ستایل .
- ✓ د پراختیا یي پلان د جوړولو له امله د پوهنځیو ستاینه.
- ✓ د تحصلي مؤسسې چمتو کول د هر ډول ارزیابي لپاره اعتبار ورکونې ته د رسېدو په موخه.

د OBE او SCL برنامو رواجول د مؤسسې په سطحه:

په ننۍ نړۍ کې له تخنیکي پرمختګونو او نویو میتودونو څخه پرته، زده کړې د وخت اړتیاوو ته ځواب نشي ویلای، د هر استاد لپاره د تدریس د نویو مېتودونو زده کړه یو لازمي او اړین امر دی، چې هغو ته د رسېدو لپاره پوهانو نوې لارې وړاندیز او ورته رسېدو ته یې ځانګړي پروګرامونه طرحه کړي، چې د هغو له ډلې څخه شاګرد محوري مېتود چې لویه پایله ورباندې مرتبه وي اړین مېتود دی، چې لاندې اهداف په بر کې نیسي:

- ✓ له پوهنتون څخه بهر د استادانو روزنه د ترینرانو په توګه د OBEاو SCLد پروګرام د تطبیق لپاره .
- ✓ د علمي کنفرانسونو جوړول د تدریس د نویو مېتودونو د زده کړې لپاره .
- ✓ د پوهنځیو د رئیسانواو ډیپارټمنټونو د آمرینو لپاره د ځانګړو ټریننګونو په لاره اچول د پروګرامونو د ښه تطبیق لپاره .
- ✓ د OBEاوSCL لپاره د څېړنیزو پروژو په لار اچول .

۴ـ ښېخ جوړښت :

ښه او د لوړ کیفیت لرونکي جوړښتونه، موږ سره مرسته کوي چې خپلو ستراتیژیکو موخو ته مو نږدې کړي. د مجهز کاري پرمخ تللي، مډرن زده کړیز چاپېریال او له نوې ټکنالوژۍ څخه په ګټنې سره کولای شو، د کور دننه او بهر کې علمي رقابت وکړای شو. دا ښېخ جوړښتونه لاندنۍ موخې را نغاړي:

- ✓ د ټولو ښېخ جوړښتونو لکه فزیکي، د معلوماتو په لاس راوړل او کتابتونونو د کمي او کیفي برخې د جوړښت او پایښت لپاره هڅې.
- ✓ د مؤسسې د شتمنیو خوندیتوب او هغو ته پراختیا ورکول او په لاس کې لرونکو  فزیکي سرچینو څخه یې ډېره ګټنه .
- ✓ د تداروکاتو، املاکي برنامې جوړونې، کتابتونونو ، د استادانو او محصلینو سیستمونوکې د  ښې همغږۍ د رامنځته کولو لپاره له پر مختللې ټکنالوژۍ څخه ګټنه .

۸ ـ د مالي برخې تأمین او پایښت :

د هرې مؤسسې او پوهنتون موخه مالي خپلواکي او پراختیا ده، موږ د خپل مالي قدرت او پراختیا موخې داسې تعریفوو:

۱ـ مالي موخې :

- ✓ د زده کړو او څېړنو په برخو کې د اوږد مهالو پلانونو تعریف.
- ✓ د زده کړو او څېړنو په برخو کې د لنډ مهالو پلانونو تعریف او تفسیر.
- ✓ د ساختمان جوړونې، ترمیم او د نوې تکنالوژۍ د جوړولو  په برخو کې د لنډ مهالې، منځنۍ او اوږد مهالې بودجې ټاکنه .
- ✓ د حساب داري او حساب ورکونې د شفافو سټنډرډونو جوړول او هغو ته پراختیا.

۲ ـ پورتنیو مالي موخو ته د رسېدو لپاره لاندني ټکي رعایت شوي :

- ✓ د سرچینو او هماهنګیو د لومړیتوبونو په نظر کې نیولو سره د ستراتیژیکو لومړیتوبونو مطابق،  پرمالي چاپېریال باندې فعال نظارت

او د لنډمهالو، منځنیو او اوږد مهالو پایلو په لاس ته راوړلو سره د عیني ارزیابی له اړخه د اړینو تصامیمو نیول.

- ✓ د بودجوي برخو له کړنوڅخه دوامداره ارزیابي او د مؤسسې له مالي ستراتیژي څخه دوره یي څېړنه.
- ✓ د امنیت ټینګښت او له پانګې اچونې څخه ښه مالي مدیریت د بېخ جوړښتونو او نویو کړنو دوامداره توسعه .
- ✓ بنسټ ته د ګټې لپاره وړ کسانو ته په تحصلي او څېړنیزو برخو کې د پوروونو ورکړه.
- ✓ په مؤسسه کې د قوي ادارې رامنځته کول د تصمیم نیونې او مسؤلیت منلې لپاره .

د محیط تحلیل :

د برخه اخیستونکو د غوښتنو پېژندل او تحلیل:

په سازمان کې د وضعیت د ښه والي، د تحولونو رامنځته کول ، د برخه اخیستونکو د اړتیاوو درک کول او هغوی ته د ځواب ورکولو د مناسبو لارو پیدا کول ، د پیلولو یو له ښو ټکو څخه دي.

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه په کور دننه او بهر له ډېرو برخه اخیستونکو سره په اړیکه کې دي . چې هر یو کولای شي په دې علمي بنسټ خپل اثر وښندي او یا هم دا علمي مرکز پر دوی اثر ولري ، چې دوی هر یو د پام وړ غوښتنې لري چې مسلم دلوړو زده کړو مؤسسه یې د پوره کولو لپاره کار کوي .


کارکوونکي په دندو کې د لوړوالي او رضایت غوښتونکي دي، برخه اخیستونکي د ډېرې ګټې په لاس راوړلو او د رقابت په میدان کې د ښه ثابتېدلو کوښښونه کوي، پېرودونکي د ښه کیفیت لرونکو مواد په تمه وي او دولت  د قانون په چوکاټ کې  د رقابت په میدان کې د سالم رقابت غوښتونکي وي.

د دغو په مینځ کې مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه باید د ټولو برخه والو غوښتنو ته پاملرنه وکړي، او د دوی دغو غوښتنو ته د رسېدو په موخه باید ځانګړې ستراتیژیوي او برنامې په لاره واچوي .

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه د دندو د اجرا، د تحصلي او اداري خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې له ډېرو واحدونو سره په تعامل کې ده، چې ځینې له هغو څخه په لاندې ډول دي :


- ✓ د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت
- ✓ د علمي کادر غړي
- ✓ اداري کارکوونکي
- ✓ زده کړیالان
- ✓ فارغین
- ✓ ځینې داخلي دولتي او خصوصي پوهنتونونه
- ✓ بهرني پوهنتونونه چې د زده کړو په برخه کې فعال وي
- ✓ بهر ني پوهنتونونه
- ✓ د زده کړو په برخو کې فعالې بهرنۍ مؤسسې
- ✓ ملي او محلي ادارې

په لاندني شکل کې د مسلم لوړو زده کړې مؤسسې برخه وال په دريو محیطونو ( لوی، رقابتي او داخلي ) کې ښکاري :



| | | |
|---|---|---|
| سیاسی عوامل | پا مرودونکی | مالی سرچینه |
| اقتصادی عوامل | رقیبان | بشری قدرت |
| ولنیز عوامل | مافوق سازمانونه | زده کړه او نه |
| کنالوژیکی عوامل | مرستة کوونکی سازمانونه | مدیریت |
| | | دوامداره ستراتیژی |

( ۱ ) جدول مسلم لو وزده کا و مؤسسه کا برخه وال .



د مسلم لوړو زده کړې مؤسسې برخه  وال کولای شو په دوو برخو ووېشو،لومړی داخلي برخه وال چې د مستقیم اغېز لرونکي دي، دوهم بهرني برخه وال چې د غیر مستقیم اغېز لرونکي دي . اوس د  مستقیم اغېز لرونکو برخه والو غوښتنې او تمې د تحلیل وړ ګرځي، او ورپسې د بهرنیو برخه والو چې د غیر مستقیم اغېز لرونکي دي، چې د سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او ټکنالوژیکي فرصتونو او ننګونې په لوی محیط کې د تحلیل وړ ګرځي.

د برخه والو اړتیاوي او غوښتنې

۱ـ د لوړو زده وزارت اړتیاوي او غوښتنې :

- ✓ د قوانینو، لایحو او مقررو مراعت کول
- ✓ د هیواد په کچه د لویو ستراتیژیو پر لور تګ
- ✓ د انکشافي او دایمي موخو لپاره تګ
- ✓ د لوړو زده کړو وزارت په ستراتیژیک پلان کې تعین شوو موخو ته لاسرسی
- ✓ د پوهنتون د رهبري هیئت اړتیاوې او غوښتنې
- ✓ د مقررو او طرزالعملونو رعایت کول

- ✓ د مؤسسې د ستراتیژیک پلان په لور تګ
- ✓ د زده کړې او څېړنو تولید او د علم په کار اچول
- ✓ د تحصلي مقررو ترتیب په پوره خپلواکي سره او د علمي کادر غړو د دوسیو طی مراحل کول
- ✓ د تحصلي کچې د کیفیت لوړونې ته پاملرنه
- ✓ د لوړو زده کړو د سیستم څېړنیز کول
- ✓ د علمي کادر غړو غوښتنې او هیلې
- ✓ په پوهنځیو کې د تحقیقي مرکزونو وده او نړیوالو کتابتونونو ته لاسرسی د څېړنو لپاره
- ✓ د تدریسي بهیر تخصصي کول
- ✓ له یواځې تحصیل څخه څېړنیز تحصیل ته تګ
- ✓ د علمي کادرغړو د رشتو مطابق لنډ مهالواو اوږد مهالو برسیو ته د هغوی ورپېژندل
- ✓ د لوړو زده کړو د سیستم څېړنیز کول
- ✓ د علمي کادر غړو له علمي څېړنو څخه مادي او معنوي ملاتړ

۴ـ د اداري اجرايي غړو غوښتنې او هیلې :

- ✓ د مجازات او مکافاتو د نظام تطبیقول
- ✓ د کاري لومړیتوبونو ټاکنه د سرچینو د مطلوبېدو په موخه
- ✓ د ټاکنو او ګمارنو په پروسو کې پوره شفافیت
- ✓ د کارکوونکو د کیفیت لوړونې په موخه د کورسونو ایجادول

۵ ـ د محصلینو اړتیاوې او هیلې:

- ✓ د څېړنو لپاره د امکاناتو د برابرولو کوښښ
- ✓ د ماسټرۍ په کچه د لوړو زده کړو د زمینو برابرول
- ✓ په لنډمهالو څېړنیزو برنامو کې محصلینو ته ونډه ورکول
- ✓ په وخت سره د محصلینو ګمارنه په لنډمهالو او اوږد مهالو تحصلي بورسونو کې

- ✓ په رواني برخه کې د مشورې، او نورو زده کړېزو برخو کې د ښو خدمتونو وړاندې کول
- ✓ د زده کړو له نويو مېتودونو څخه استفاده
- ✓ د عملي مضمونو د کريډيټونو د شمېر زياتوالی په تيوري مضمونونو
- ✓ د تحصلي رشتو متناسب والی د بازار له کار سره
- ✓ د محصلينو له څېړنو او مونوګرافونو څخه د ټولنيزو ستونزو د هواري په موخه ګټه اخيستل.
- ✓ د نړيوالو ستندردونو مطابق د کريکولم او درسي سرچينو باندې کتنه .

۶ ـ د فارغو محصلينو اړتياوې او غوښتنې :

- ✓ دولتي او خصوصي مؤسساتو ته د وړتياوو په اساس د فاغينو ورپېژندل
- ✓ لنډ مهالو او اوږد مهالو تحصلي بورسيو ته د فارغينو د ورپېژندلو په برخه کې دوامداره هڅې
- ✓ د محصلينو له څېړنو او مونوګرافونو څخه د ټولنيزو ستونزو د هواري په موخه ګټه اخيستل.
- ✓ د کار موندنې په برخه کې د مشورو ورکونې د خدمتونو پيدا کول
- ✓ لايقو او وړ فارغ تحصيلانو ته د پوهنتون په څېړنيزو او پراختيايي مراکزو کې د جذب زمينې برابرول

۷ـ د نورو پوهنتونونو اړتياوي او غوښتنې :

- ✓ د علمي موادو تبادله
- ✓ په څېړنيزو برخو کې ګډون
- ✓ د ګډو څېړنيزو طرحو اجرا کول
- ✓ د امکان په صورت کې د يو بل له جوړښتونو ګټنه

۸ ـ د بهرنيو پوهنتونو اړتياوي او غوښتنې :

- ✓ د ګډو څېړنيزو برنامو جوړول او پر مخ وړل
- ✓ د امکان په صورت کې د يو بل له جوړښتونو ګټنه

- ✓ د یو پوهنتون د علمي هیئت له تجربو څخه د نورو پوهنتونونو ګټه اخیستل
- ✓ د علمي کادر غړو د کیفیت لوړو نې په موخه د ګډو برنامو جوړول
- ✓ د علمي مقالو د خپراوي او چاپ لپاره زمینه برابرول

۹ ـ د بهرنیو مؤسسو اړتیاوي او غوښتنې

- ✓ د مشخصو او د اجرا وړ برنامو طرحه کول
- ✓ د بهرنیو مؤسسو د پالیسي مطابق او د هغوی د صلاحیتونو په اډانه کې د برنامو طرحه او اجرا
- ✓ وضاحت او شفافیت
- ✓ په وخت دقیق راپور ورکول

د فرصتونو او ننګونو مقابل کې د بهرني محیط پېژندنه:

د بهرني محیط د پېژندنې او تحلیل لپاره بېلابېلې لارې او طریقې شته، چې هر یوه یې د بهرني محیط د تحلیل او پېژندنې لپاره وسایل چمتو کوي؛ د همدې لپاره pest مېتودولوژي د بهرني محیط د تحلیل لپاره ټاکل شوې. په دوام یې د تحلیلونو له لارې  لاسته راغلې پایلې د PEST په چوکاټ کې وړاندې کیږي :

ـ دولتي، قانوني او سیاسي  pمحیط

ـ  اقتصادي Eمحیط

ـ ټولنیز او کلتوري Sمحیط

ـ ټکنالوژیکي  Tمحیط

۱ـ دولتي، قانوني او سیاسي محیط:

فرصتونه

- ✓ د حکومت ، افغاني ټولنې او بین المللي بنسټونو علاقه مندي او سمون د هېواد د لوړو زده کړو د برخې
- ✓ په ټولنه کې لوړو زده کړو ته ځانګړې پاملرنه

- ✓ د لوړو زده کړو د وزارت د ستراتیژیک پلان شتون
- ✓ د هېواد په سیاستونو کې د پنځېدونکو او څېړنیزو برخو ته نه پاملرنه
- ✓ د لوړو زده کړو د نوي قانون تصویبېدل د استادانو د ظرفیت لوړونې په موخه
- ✓ د نړۍ او هېواد دننه کې د له پوهنتونونو او نورو بنسټونو سره اړیکې لرل
- ✓ د کیفیت لوړونې د نظام شتون

ننګونې :

- ✓ په دولتي ادارو کې اداري فساد
- ✓ د مقررو او لایحه ژر ژر تعدیل کېدل چې د کارونو په مخ کې د خنډونو سبب کېږي
- ✓ د دولتي او نا دولتي مؤسسو ته د ناعادلانه فرصتونو او سرچینو برابرېدل
- ✓ په هېواد کې د مؤسسو تر منځ د علمي مواد نه تبادله کېدل
- ✓ د مجازاتو او مکافاتو د اصل نه تطبیقول
- ✓ په زده کړیزو برخو کې د مؤسسې د مقرراتو او اجراتو نا مستقل کېدل

اقتصادي محیط

فرصتونه

- ✓ په خصوصي برخو د پانګوالو شتون
- ✓ د عایداتي څېړنیزو پروژو شتون
- ✓ د محصلینو د ځینو کارونو د اجرا په برخو کې د ملي او بین المللي مؤسساتو شتون
- ✓ د خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسو زیاتوالی
- ✓ په مؤسسو کې د علمي څېړونکو شتون
- ✓ د دولتي، خصوصي او ان جي او ګانو اړتیا د مشورو او پالسي جوړولو په برخو کې

ننګونې :

- ✓ د مصرفي اقتصاد شتون د توليدي اقتصاد پر ځای
- ✓ د پوهنيزو شرکتونو نه شتون د لوړې ټکنالوژۍ د محصولاتو د توليد په برخو کې
- ✓ د سوداګريزو فعاليتونو وده د څېړنېزو اوپنځونوکو فعاليتونو پر ځای
- ✓ د توليد د سيستم سنتي والی
- ✓ د هېواد په ملي عوايدو کې نامتوازن تغيرات او د نرخونو غير معقول لوړوالی
- ✓ د هېواد د اقتصادي نظام تړون په نړيوالو مرستو او پانګه اچولو پسې

ټولنيز او کلتوري محيط

فرصتونه

- ✓ په ټولو ځوانانو کې د لوړو زده کړو د کولو علاقه
- ✓ د خلکو د باور لوړوالی
- ✓ د پنځونکو، لايقو او وړ ځوانانو شتون
- ✓ د وړ او په کار پوه فارغينو شتون
- ✓ په پوهنځيو کې د نويو شامل شو کسانو د علمي ظرفيت نا برابروالی
- ✓ د کورنيو کلتوري باور د هېواد د ودانولو په برخه کې په علمي او څېړنيزو کارونو
- ✓ د چوپړيزو او توليدونکو خصوصي شرکتونو تمايل د مسلکي او پوهو ځوانانو په ګمارنو کې

ننګونې :

- ✓ په داخلي څېړونکو بې باوري
- ✓ د زده کړو په برخو کې د زده کړو په کار وړلو کې ضعف
- ✓ پر ټولنيزو علومو کې د داخلېدو علاقه او غوښتنې
- ✓ په صنعتي او اجرايي برخو کې پرڅېړنو د نه باور له امله د څېړنو نه عملي کول

- ✓ د فکري مالکیت او کلتوري جوړښتونو ورکوالی
- ✓ د ښوونځیو او پوهنتونونو په درسي مفرداتو کې د تناسب نه شتون

ټکنالوژیکي محیط

فرصتونه

- ✓ د مجازي نړۍ پراخوالی او له هغې څخه د تکنالوژیکي او څېړنیزو برخو کې ګټنه
- ✓ په نړیوالو شبکو کې علمي او مدیریتي سرچینو ته لاسرسی
- ✓ په ټولنه کې د ټکنالوژي د تغیر چټک پر مختګ
- ✓ د سیستم د ودې لپاره د تکنالوژیکي فرصتونو شتون
- ✓ له برېښنایي لارې له نړۍ سره په کم لګښت د اړیکو ټینګولو  فرصت
- ✓ په مؤسسو کې د وړ او مسلکي کسانو شتون د مدیریتي شرایطو د سمون په خاطر
- ✓ د خبر رسولو په برخو کې له ټکنالوژۍ څخه ګټنه

ننګونې:

- ✓ په هېواد کې د مناسبو جوړښتونو نه شتون له تکنالوژۍ څخه د سمې ګټنې په موخه
- ✓ د صنعتي اړتیا د لیږ لید لپاره د څیړنې سم نا پرمختګ
- ✓ په هېواد کې د علمي او تکنالوژیکي مرکزونو نه شتون
- ✓ په پوره توګه په اجرایي، سوداګریزو او اقتصادي برخو کې له تکنالوژي څخه ګټه نه اخیستل
- ✓ د تولیدي محصولاتو د تولید د شرکتونو په لوړه تکنالوژۍ سره سمبال نه شتون

د بهرني محیط تحلیل او ارزیابي :

د مسلم لوړو زده کړو مؤسسې تحلیل او ارزیابي په څلورو پړاونو کې شوې ده :

د مسلم  لوړو زده کړو مؤسسې د پالیسیو او ستر اتیژیو په وسیله د بهرنیو عواملو استخراجول:

په دغه مرحله کې د مسلم لوړو زده کړو مؤسسې د پالیسیو او ستراتیژیو کتنه د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیک پلان په نظر کې نیولو سره او د ګټه اخیستونکو تحلیل، او د ستراتیژۍ په مخ کې د فرصتونو او ننګونو شتون او په پایله کې مؤثر عوامل په نښه او وپېژندل شول.

۲ـ د پوښتنپاڼو طرحه کول:

د پېژندل شوو عواملو له بیا کتنې څخه وروسته په لومړنۍ مرحله کې د پېچیدګیو کمول، یوشان عوامل لرې کول او په اخېر کې ۲۶ مؤثر عوامل په ګوته او تشخیص شول. وروسته د لومړیتوبونو په نظر کې نیولو سره ۱۳مهم موارد د فرصتونو له منځه او ۱۳اړین موارد د ننګونو له منځ څخه وټاکل شول. د بهرني محیط عوامل ټولټال ۲۶ عدده دي. په دې پوښتنپاڼه کې د هر عامل تاثیر په بېلابېلالو ( ۱ـ ډېر زیات، ۲ـ ډېر، ۳ـ لیږ، ۴ـ بېخې لیږ) قالبونو کې مشخص شوي.

۳ـ ټول پوښتنه:

د مسلم لوړو زده کړو مؤسسې د رهبري هیئت غړو تر منځ له پوښتنپاڼې جوړولو وروسته، د د یپارتمنتونو په آمرینو او ځینو محصلینو باندې وویشل شوې، او له هغوی څخه وغوښتل شول، چې هغو ته ځواب ورکړي، په اخېر کې د پوښتنپاڼو له راټولولو د ۱۲۰تنو له نظرونو څخه د بهرني محیط په تحلیل کې کار واخیستل شو.

۴ـ د بهرني محیط تحلیل او ارزیابي :

د لومړیتوبونو د ټاکلو لپاره پېژندل شو بهرنیو عواملو ته پاملرنه اړینه ده، تر څو هغوی ته د امتیاز ورکولو او د هغو عواملو ارزیابي تر سره شي. لکه څنګه چې وړاندې ورته اشاره وشوه، د همدې لپاره هغو کسانو ته چې پوښتنپاڼې ورته

وویشل شوې، له هر یوه څخه وغوښتل شول چې نظرونه په پوښتنپاڼو کې د راغلو پوښتنو په تړاو اوسنیو موجودو شرایطو ته په کتلو سره واضح کړي.

په مسلم لوړو زده کړو مؤسسه کې د فرصتونو او ننګونو د لومړیتوبونو د پېژندنې او د پوښتنپاڼو د تحلیل په موخه له SPSS پروګرام څخه ګټه واخیستل شوه .

| | |
|---|---|
| د EFE بهرنیو عواملو ارزیابی | |
| فرصتونه | |
| په افغانستان ک د حکومت او ن یوالو بنس ونو علاقه او کو ونه د لو و زده کو و برخه ک . | ۱ |
| د دولت په لویو پالیسیو او د مهالو پلانونو ک لو و زده کو ته ان پاملرنه. | ۲ |
| د کورنیو پوهنتونو ترمن د علمي همکاریو شتون | ۳ |
| د لو و زده کو وزارت ک د پلان او ستراتیژیو شتون | ۴ |
| د لو و زده کو وزارت ک د کیفیت لو ونه نظام شتون | ۵ |
| د لو و زده کو وزارت پاملرنه د استادانو د علمي کچې د لو اوي په موخه | ۶ |
| د ان بساینه او صنعتي برخوا تیا د نو پراختیا ته. | ۷ |

| | |
|---|---|
| دوید و، پنـ ونکو او مستعدو وانانو شتون | ۸ |
| د لو وزده کـ و سره د خلکو دینـ زیاتوالی | ۹ |
| د ینو کورنیو او بهرنیو مؤسسو والتیا د نیزو پروژو د تطبیق په برخه کـ | ۱۰ |
| استادانو ته د لالو وزده کـ و په برخه کـ د کورنیو او بهرنیو بورسیو شتون | ۱۱ |
| په ولنه کـ د مرکار کولو او په علمی ا ، سمبالو کادری او اداری غ و لرل | ۱۲ |
| د الکترونیکی او تکنالوژیکی سیستمونو رواج رل د تدریس او نو په برخو کـ | ۱۳ |

| تـ ونـ | |
|---|---|
| علمی او نویو سرچینو ته په ملی ژبو نه لاسرسی | ۱ |
| د دولتی او خصوصی مؤسسو ترمنـ د هماهنـ ی نه شتون | ۲ |
| د اوسنـ ولنـ کم سیاسی فهم | ۳ |
| د رقابت منلـ کمه روحیه د پوهنتونونو ترمنـ | ۴ |
| په هـ واد کـ د اداری فساد شتون | ۵ |

| | |
|---|---|
| ۶ | د ينو د ظرفيت لو ونه په برخه كې د فرصتونو كموالى |
| ۷ | د نيزو علمي كې نو له پايلو خه د دولتي، خصوصي او صنعتي مؤسسو نه استفاده |
| ۸ | د پوهن وزارت او لو وزده كې و وزارت د درسي مفرداتو ترمن نه هماهن ى |
| ۹ | د استادانو او محصلينو له نو خه د لو وزده كې و وزارت نه ملاتړ او تشويق |
| ۱۰ | د علمي كادر غ و په مقرر ، ترف ع او انفكاك كې د توجو نه شتون |
| ۱۱ | د پوهنتونونو او بازار كار ترمن د اړيكو نه شتون |

د داخلي محيط تجزيه او تحليل

د مسلم لوړو زده کړو مؤسسې داخلي محيط په څلورو مرحلو کې ارزيابي او تحليل شوی:

۱ـ د موجود وضعيت د بررسي په واسطه د داخلي عواملو ايستل د باخبره کسانو د نظر برابر

په دې مرحله کې د موجود وضعيت د بررسي او هم د تر سره کړو مطالعو په اساس د مسلم لوړو زده کړو مؤسسې په ستراتيژي باندې د داخلي مؤثرو عواملو پېژندنه وشوه. په دې مرحله کې ۱۷ مؤثر داخلي عوامل وپېژندل شول.

۲ـ د پوښتنپاڼو چمتو کول:

د بهرني محيط د تحليل لپاره د پو تنپا و د جو ولو جدول

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | داخلي عوامل | د مسلم لو وزده کا و مؤسس پر زده کا یزو او نیزو ستراتیژیو د مؤثرو عواملو کچه | | | |
| | قوت | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۲ | داخلي عوامل | د مسلم لو وزده کا و مؤسس پر زده کا یزو او نیزو ستراتیژیو د مؤثرو عواملو کچه | | | |
| | د ضعف کی | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |

د عواملو له یاکتنې او پ ژندن پ ت مره مرحله کا او د ینو عواملو ن ول د ۱۷ عواملو له ل چ وپ ژندل شول، وروسته

د عواملو لو یتوب او ارز ت ته په کتو ۱۳ کلیدي د قوت کی او ۴ کی د ضعف له برخ وپ ژندل شول.

ول ال داخلي عوامل ۱۷ دي .

په مسلم لوړو زده کړو مؤسسه کې د فرصتونو او ننګونو د لومړیتوبونو د پېژندنې او د پوښتنپاڼو د تحلیل په موخه له SPSS پروګرام څخه ګټه واخیستل شوه .

| د داخلي عواملو د ارزیاب جدول |
|---|

| | |
|---|---|
| | قوی کی |
| ۱ | مؤثره، کاریـ مره او سالمه اداره |
| ۲ | لهٔ بشری سرچینو خه په مناسبه تو ہ راخیستل په اداری او ساختاری برخه کې |
| ۳ | د مناسبو ساختمانونو او کمپلیکسونو خه نه د مؤسس لپاره او د طب لپاره با ل تعمیر |
| ۴ | د مسلم لو وزده کې و مؤسس په ۴ پوهن یو کې دفعالو علمی کادرونو لرل |
| ۵ | مسلم لو وزده کې و مؤسس دا تیا مطابق د فعالو او مؤثرو کې و لرل |
| ۶ | د مسلم لو وزده کې و مؤسس ہ اون ک نوم لرل |
| ۷ | لهٔ بهرنیو تحصلی مؤسسو سره د توامیت وجود |
| ۸ | په تحصلی مؤسسه کې د میاشتنۍ علمی خپرون او نیز مرکز شتون |
| ۹ | د کارا او مؤثر کیفیت لو ون نظام شتون |
| ۱۰ | د IT مرکز، دان ل سی ژبې او نورو بهرنیو ژبو د زده کې د مرکزونو شتون همدا ول د عمومی او ان مرو کتابتونونو شتون او هم د لویو کنفرانس خونو شتون |
| ۱۱ | ن یوالو اطلاعاتی سرچینو ته لاسرسی |
| ۱۲ | د محصلینو د شورا شتون د مؤسس په کچه |

| | |
|---|---|
| ۱۳ | د ستراتیژیکو لیدلورو شتون د تحصلی مؤسسـ په کچه |
| | **ضعف کی** |
| ۱ | د اداري کارکوونکو د تحصلي کچې کموالی |
| ۲ | د پوهنتون له فیس پرته د نورو عایداتي سرچینو کموالی |
| ۳ | د و امتیازاتو، روغتیایي او ولنیزو تامیناتو نه شتون د پوهنتون د اداري او کادري غ و لپاره |